**ټرمپ، خان او طالبان**




په تېرو څو اوونیو کې د امریکايي ولسمشر ډونال ټرمپ او د پاکستان د لومړي وزیر عمران خان تر منځ د طالبانو، په ځانګړې توګه د افغانستان د جګړې په اړه څو ځله خبرې اترې وشوې.

په داسې حال کې چې د دغو رهبرانو تر منځ په ټولنیزو رسنیو لکه ټویټر کې یو پر بل نیوکې وشوې او په ورته وخت کې د یو شمېر برېدونو په ترځ کې ګڼ شمېر کسانو خپل ژوند له لاسه ورکړ. مختلفو ډلو ټپلو د هغه څه مسؤلیت پر غاړه واخیست، چې د دوی لپاره اړین کار بریښېده.

کله چې دغو پېښو ته د نړیوال سیاست له زاویې وکتل شي، د افغانستان په اوږد مهاله جګړه کې د امریکا د امپراطورۍ د ځواک ضعف تر سترګو کېږي.

یوازې په تېره اونۍ کې د ځانمرګوو برېدونو او بمباریو شمېر له حساب څخه بهر و، چې څو مهم یې په لاندې ډول وو:

۱- د پاکستان په کراچۍ ښار کې د چین پر قونسلګرۍ د بلوچستان بیلتون غوښتونکوو وسله والو برید، چې څلور کسان پکې ووژل شول.

۲- د افغانستان په ختیځ ولایت خوست کې پر جومات د برید مسوولیت اسلامي دولت ډلې پر غاړه واخیست، چې له امله یې ۲۶ کسان ووژل شول.

۳- د فراه ولایت په لوېدیځه برخه کې طالبانو د پولیسو پر یوه کاروان برید وکړ، چې لږ تر لږه ۲۰ پولیس پکې ووژل شول.

۴- د پېښور په یوه مارکېټ کې د سبزیجاتو په کارتن کې د ځای پر ځای شوي ماین د چاودنې له امله لږ تر لږه ۳۱ کسان مړه او ۵۰ نور ټپیان شول.

دغو بریدونو د وروستیو احساساتي شخړو لپاره، چې د خان او ټرمپ تر منځ پر ټویټر را منځته شوې وې، یوه ننداره جوړه کړه. کله چې د دوی د لیکنې هر خط د نړیوال سیاست له زاویې تحلیل کیږي، دوه څېزونه را څرګندیږي:

۱- متحده ایالاتو ته د پاکستان د حکومت پیروي.

۲- په سیمه کې د امریکا متحده ایالاتو کمزوری نفوذ.

ټرمپ د امریکا متحده ایالاتو او پاکستان تر منځ د اړیکو په هکله خپل احساسات داسې څرګند کړل چې « دوی زموږ لپاره هېڅ کار نه کوي» ټرمپ د خپلې ادارې د هغې پرېکړې د دفاع لپاره، چې له امله یې پر پاکستان خپلې مالي مرستې بندې کړې، وویل: «موږ

پاکستان ته هر کال ۱.۳ ملیارده امریکایي ډالر مرسته ورکوو، وروسته له دې دا مرستې بندوو، ځکه چې دوی زموږ لپاره کار نه کوي.»

د ټرمپ له خبرو دا په ډاگه کیږي، چې دی د دواړو هېوادو ترمنځ متقابلې اړیکې غواړي. دا په روانه اونۍ کې هغه وخت په ډاگه شوه، چې کله پاکستان د لومړي ځل لپاره د القاعدې د پخواني مشر اسامه بن لادن د وژلو په برخه کې د مرستې دعوه وکړه، چې په اغلب گومان دا په ډاگه کوي چې پاکستان د القاعدې د پخواني مشر په پیدا کولو کې هیڅ رول نه درلود.

د پاکستان لومړي وزیر عمران خان د دې لپاره چې د پاکستاني حکومت پر ځرگنده غلامۍ پرده واچوي، پر خپله ټویټرپاڼه یې د افغانستان په جگړه کې د امریکا متحده ایالاتو ناکامۍ ته اشاره وکړه.

د عمران خان ادعاوې ارزښتمن ټکي لري. د BBC د وروستۍ څېړنې پر بنسټ، اوسمهال طالبان د افغانستان پر ۷۰ سلنه خاوره واک لري. پر هغه بې شمېره قربانیو سربېره، طالبان له هغه وخته ډېر فعال دي کله چې د امریکا متحده ایالاتو افغانستان ته شورش یووړ، اوسمهال په ډېره ځمکه د ولکې ټینگولو فرصت ورته برابر شوی، چې پخوا هېڅکله نه و ورته برابر شوی.

د امریکا له متحده ایالاتو سره پر افغاني او پاکستاني سرتېرو سربېره د ناټو گڼ شمېره سرتیرو مرسته وکړه او ۱۷ کاله یې په جگړه کې تېر کړل، بیا هم امریکا په دې نه پوهیږي چې په پاکستان کې له دغه بحراني حالت سره څرنگه معامله وکړي او څرنگه خپل دښمن له منځه یوسي.

کله چې امریکا په دې پوه شوه، چې په جگړه کې د ناکامۍ په حال کې ده او څرگنده روښانه پایله نه لری، نو د دغه خونړۍ جگړې د پای ته رسولو لپاره یې نوي تکتیکونه (کړنلارې) په کار واچولې، د بېلگې په توگه؛ د دوی وروستۍ هڅې، چې پر مټ یې طالب مشران وهڅوي، چې د خبرو اترو مېز ته حاضر شي.

عمران خان د ټرمپ او متحده ایالاتو ادرې پر وړاندې د خپل هېواد دفاع په سختو ټکو وکړه، په دا سې حال کې چې سوداگریزې اړیکې، سوداگریز تړونونه او افغانستان ته د امریکا متحده ایالاتو ځواکونو پر مخ دروازو خلاصون، لا هم ادامه لري. پر دې سربېره ، پاکستان په دې وروستیو کې هغو الوتکو ته په خپله خاوره کې د کوزېدو اجازه ورکړه چې پر صهیونیستي دولت (اسرایلو) پورې یې تړاو درلود.

د ده له سختو خبرو سره سره، پاکستاني رژیم بیا هم امریکا ته سر ټیټ ساتلی او د امریکا گټو ته ژمن پاتې دی. پر دې سربېره عمران خان په خپله ټویټري جگړه کې د افغانستان په جگړه کې د امریکا متحده ایالاتو واقعي وضعیت څرگند کړ. امریکا یو زبرځواک، خپل نفوذ له لاسه ورکوي او د زوال لور ته روانه ده او د درېیمې نړۍ پر هېوادونو یې د خپلې ایډیالوژۍ د پلي کولو کنترول له لاسه ورکړی.

د خاورو د اشغال او مدني ازادیو تر نامه لاندې د تش په نامه ډیموکراسۍ د پلي کولو لپاره، د پادهوان د تکتیکونو د یو لړ پالېسیو له کاروني څخه معلومیږي چې دا ایډیولوژي یو ځل بیا له ناکامۍ سره مخ ده. هغه میراث یې چې پر ځای پرېښود، هغه په ملیاردونو ملیاردونو ډالره لگښت او بې شمېره مرگژوبله.

دا حیرانونکې ده چې الله سبحانه وتعالی د دغه ډول کفارو په اړوند په انفال سورت کې فرمایي:

**﴿إِنَّ الَّذِينَ كَفَرُوا يُنفِقُونَ أَمْوَالَهُمْ لِيَصُدُّوا عَن سَبِيلِ اللَّهِ فَسَيُنفِقُونَهَا ثُمَّ تَكُونُ عَلَيْهِمْ حَسْرَةً ثُمَّ يُغْلَبُونَ وَالَّذِينَ كَفَرُوا إِلَىٰ جَهَنَّمَ يُحْشَرُونَ﴾** [الانفال:۳٦]

*کومو خلکو چې د حق له منلو څخه ډه ډه کړې، هغوی خپلې شتمنۍ د الله سبحانه وتعالی له لارې څخه د منع کولو لپاره لگوي او اوس به یې لا زیاته ولگوي. خو په پای کې به همدا هلې ځلې د هغوی لپاره د پښېمانۍ سبب وگرځي. بیا به هغوی مغلوب وي او بیا به دا کافران د دوزخ لور ته محاصره شوي ورشي.*

**د حزب التحریر د مرکزي مطبوعاتي دفتر لپاره**

**لیکوال: تنویر میا**

**۲۰۱۸م، د نومبر ۳۰مه**

**۱۴۴۰هـ.ق، د ربیع الاول ۲۱مه**